# اجتماعي رياکاري

ځيني بد خويونه او کاږه اخلاق له په فردي حيات کي چي ممنوع او کږلي دي په اجتماعي حيات (ټولني ژوندانه) کي هم مضر او ناوړه دي.

اخلاقيون وايي: چي رياکاري د هر انسان لپاره مضمره ده، او له دې بلا څخه ځان ګواښل د هر انسان اخلاقي وظيفه ده. ريا دا ده، چي سړی د نورو د تېر ايستلو لپاره کوم کارونه د مظاهرې په ډول کوي او په حقيقت کي هغسي نه وي. د دې خوی د کږلو او ناوړتيا فلسفه هم دغه ده، چي په مظاهروي ژوندون او رياکارۍ کي د فرد اصلي قيمت نه ښکاره کېږي، او خلک وغولېږي او د افرادو لپاره د هغو تر لياقت لوړ قيمت کښېږدي. حق او باطل سره ګډ سي او د سپين او خړ امتياز نه سي کېدای.

کله کله دا اجتماعي آفت، پر يوه جامعه باندي هم غالب کېږي، نو يوه جامعه او ټولنه رياکاره سي، د دې ريا او دروهني نتيجه نو دا سي چي دوی ته حقايق نه ښکارېږي او د ځانو حقيقي قيمت ځني ورک سي، په غرور او اجتماعي ادبار ګرفتار سي.

(اجتماعي رياکاران) لوی ګنهکاران دي. ځکه چي دوی افراد نه غولوي، بلکي جامعه خطاباسي.

په اوسنۍ زمانه کي د ملتو اجتماعي ژوندون پر ځينو کلکو اساسو ولاړ دئ. رشتيا او صراحت ډېر قيمت لري، له مظاهروي اخلاقو او ريا څخه هم افراد هم جوامع ځانونه ژغوري، رشتيا رشتيا وايي، په صراحت خپل عيوب ليکي او خلک ملتفت کوي چي د ژوندانه په مسير کي پر کومه خوا ځي او څه کوي؟ د کاميابۍ او برياليتوب عوامل يې کوم دي؟ د ناکامۍ او بربادۍ سببونه يې کوم دي؟

په هغو شقوقو کي چي تر شا پاته وي، په واضح ډول يو بل ته وايي او خپل هيئت حاکمه هغې خوا ته ملتفت کوي.

هغه ملل چي په مظاهروي ژوند اموخته سي او د اجتماعي ريا په بد عادت ګرفتار وي، داسي ملل نه لار موندلای سي او نه پر مخ تللای سي، ولي چي دوی ته د خپل حيات حقيقي موقف نه معلومېږي او نه پوهېږي چي لوړ دي که ځوړ؟

داسي خلک تل لکه ړانده رهي وي مګر پوهېږي نه چي چيرته ځي؟ دوی د مظاهرو ډنګ او ډول اوري او تېر وزي او له ځانه سره فکر کوي چي د مقصود مزله ته رهي وي، مګر د دوی مخه د مکې پر ځای ترکستان ته وي او هغه څوک چي دوی غولوي او دا ورته وايي، چي تاسي پر سمه لار ځئ او عنقريب خپل هدف ته رسېږئ دا خلک نو (اجتماعي ګنهکاران) دي.

په يوه جامعه کي چي دغه اجتماعي ګناه ډېره سي، نو د حق او باطل امتياز هم ورک سي، او په پای کي دغسي جامعې د غرور د ګناه په جزا کي د تباهۍ ګړنګ ته لوېږي.

زه ښاغلي ځلمي دې نکتې ته ملتفت کوم، چي په ټولو کارو او شخصي او اجتماعي امورو کي د خپلو اقداماتو حقيقي قيمت خلکو ته ښکاره کړي او له مظاهراتو او تشو خبرو څخه ځانونه وژغوري، نه ځان ته فرېب ورکي او نه نورو ته.

په دې مرحله کي تر ټولو ډېر زموږ ليکوال او نويسنده ګان مسئول دي او دا ډېر عمر کېږي، چي موږ په قلمي مظاهراتو ځانونه ستړي کړه ډېر کوچني شيان مو غټ وښوول او ډېر ضعيف انسانان مو غښتلي ومنل. اما اوس چي پخپلو ګرېوانونو کي سرونه وځړوو، نو رامعلومېږي چي موږ ډېر کوچني او واړه يو او د عمل پر ميدان ډېر تر شا پاته يو. اوس موږ پوهېږو

چي اجتماعي رياكارۍ تباه کړي يو، او که پسله دې هم پر دې لار ځو او خپلو حقايقو ته نه ملتفت کېږو، ښايي چي په اجتماعي ادبار لا ډېر اخته سو.

طلوع افغان، ۱۳۲۸ ش، ۱۲٦ گڼه، دوهم مخ.